# د خوشحال بابا په قصیدو کښې د پښتنو قبیلو تذکره: یوه تحقیقي جائزه

## A research review of the illustration of Pashtun tribes in Khushal Khan's Epics

Ibad Ur Rahman*
Dr. Badshah.i.Room ♣

**ABSTRACT:**

Khushal Khan, a prominent figure in Pashto literature, transcends traditional thematic boundaries in his epics, exploring diverse facets of life through poetic expression. This article delves into the poet's nuanced portrayal of Pashtun tribes, with a particular focus on revealing that their inclusion is not arbitrary but rooted in distinct reasons. Going beyond a mere enumeration of tribes, we unravel the multifaceted contexts that prompt Khushal Khan to incorporate these elements into his epic narratives. From cultural nuances to historical significance, the article aims to dissect the underlying motivations, offering a comprehensive understanding of the intricate relationships between the poet and the Pashtun tribes. By examining these diverse dimensions, we unveil the richness and complexity embedded in Khushal Khan's poetic depiction of Pashtun tribes within the broader tapestry of his epic compositions.

**Keyword:**_khushal khan khattak, traditional thematic boundries, epics, Pashtun's tribes, narrations, relationship, poet and tribes

خان علیینِ مکان د پښتو شعر و ادب داسې روښانه څهره ده چي له مخه ئې ډېر ځلېدونکي ستوري تت ښکاري. د شعر او ادب دغه څهره چي کوم اړخ ته ګرځېدلې ده نو تورې تیارې ئې روښانه کړې دي. نابغه دومره ؤ چي په یوازې ځان ئې هم توره چلولې ده، هم ئې سرداري کړې ده او هم ئې ښکار کړے دے خو د دې هر څۀ باوجود ئې قلم په نورو ټولو اړخونو زورور او حاوي پاتې شوے دے. د خپل عصر د ادب د ټولو تقاضو نه ښۀ واقف او با خبر ؤ که یو طرف ته ئې د

* Ph.D scholar Department of Pashto, University of Malakand
♣ Associate Professor Department of Pashto, University of Malakand

"دستار نامه" په لیکلو دا په ډاګه کړه چې نثر روان، ساده او د روزمرې برابر پکار دے او د تصوف او دیني مسائلو بیانولو نه علاوه معاشي او معاشرتي مسائل او موضوعات هم ډېر اهمیت لري نو بل طرف ته ئې په شاعرۍ کښې هم نوي نوي موضوعات او اصناف متعارف کړل. د شعر لمن ئې فراخه کړه او د خط و خال د فکر نه علاوه ئې پکښې د دوران غم او سیاست ته هم ځای پېدا کړو. ورسره ئې شعر د خپل دور ائینه دار هم کړو او دا ځکه نن وخت کښې د خوشحال د شاعرۍ او اثارو مطالعه ضروري او اهمه ده چې مونږ پکښې د هغه وخت تاریخ او تاریخي واقعات ښۀ په ښکاره ډول لید ے شو.

که مونږ د خوشحال بابا د شاعرۍ په غور او ژور نظر سره مطالعه وکړو نو د نورو ډېرو موضوعاتو نه پرته پکښې د پښتنو قبیلو ذکر په کثرت سره په نظر راځي او دا هم د خوشحال بابا د اجتهاد ښکاره ثبوت دے. ځکه چې په پښتو شاعرۍ کښې نۀ د خوشحال بابا نه وړاندې او نۀ وروستو د پښتنو قبیلو ذکر کړے دے دې ته مونږ د خوشحال بابا اجتهاد وئیلے شو. ځکه خو ډاکټر علي خېل درياب هم په دې رائے ورکولو مجبوره شوے دے چې:

"ستر خوشحال د پښتو ادب یو لُوی مجتهد ؤ، د هغه اجتهاد د پښتو په نثر او نظم دواړو کښې جوت په نظر راځي چې زمونږ د ادبیاتو لمن ئې پراخه کړې ده. دغه پراخي نۀ یوازې په موضوعاتي لحاظ ښکاره ده بلکې د فکر و فن په بنیاد ئې هم خپل ځان په پښتني ادب کښې راځای کړے دے او هم دا وجه ده چې په دغه حواله د ستر خوشحال تقلید د هغۀ همعصرو هم کړے دے. متقدمین هم په دغه لار تللي دي او د جدید دور لیکوالو ئې هم په پل باندې پل ایښے دے او دغې سلسلې ته ئې دوام بخښلے دے. د څۀ په برکت چې پښتو شعر و ادب تردې دمه یو اوږد سفر غوځ کړےدے او د ودې او پرمختګ پړاوونه ئې سرکړي دي په دغه اجتهاداتو کښې څۀ داسې دي چې هغه صرف د خوشحال بابا د تخلیقاتو پورې محدود پاتې شوي دي او د هغۀ نه پس نورو لیکوالو هغې ته څۀ پاملرنه او توجه نۀ ده کړې "(**1**).

که دا پورته اقتباس په نظر کښې وساتو او بیا د خوشحال بابا په کلام کښې د پښتنو قبیلو ذکر ته ځیر شو نو داسې څرګندېږي چې خوشحال بابا د خپلې شاعرۍ یوه لویه برخه دې ته وقف کړې ده. د پښتنو قبیلو ذکر خوشحال

بابا تقريباً تقريباً په هر صنف کښې کړے دے چې کۀ يو اړخ ته د هغوي قادرالکلامي په ګوته کوي نو بل اړخ ته ترې د خوشحال بابا غونډې ګرځنده سړي د ژورې مشاهدې او مطالعې اندازه هم په اسانه کېدے شي.

په دې مقاله کښې د هغه ټولو پښتنو قبيلو د نومونو جاج اخستے شي چې خوشحال بابا ئې ځاى په ځاى په خپلو قصيدو کښې ذکر کړے دے. دلته به دا هم په ډاګه کولے شي چې خوشحال بابا د کومو قبيلو ذکر کړے دے او د ذکر کولو وجوهات او اسباب ئې څۀ وو.

لکه څنګه چې مونږ ته دا خبره په ډاګه ده چې د خوشحال بابا په نزد پښتانۀ بني اسرائيل دي او دا د هغه وخت مشهوره نظريه وه نو ځکه خوشحال بابا پښتانۀ د حضرت يعقوب عليه السلام تبار يادوي او بيا د پښتنو د مشهورو او لويو قبيلو ذکر کوي او وائي چې ټول پښتانۀ په اصل کښې د دې قبيلو په اولاد کښې راځي. لکه چې وائي:

"پښتانۀ په اصل کښې سړبني دي
يا غورغشتي دي يا بېټني دي
غلجي، لودي د بېټني له لوره
په سړبن پورې بيا کرلاڼي دي"(2)

د بني اسرائيل نظرئي مطابق پښتانۀ د قېس بابا اولاد دے چې په سړبن، بيټن، غورغشت او کرلاڼ مشتعمل دي خو ډېر محققين په دې خبره يوه خلۀ دي چې پښتانۀ د قېس بابا اولاد خو دي ولې درې شاخونه لري يعنې کرلاڼي ترې وباسي او د دې خبرې تصديق د خوشحال بابا د دې شعرونو نه هم کېږي مطلب دا چې خوشحال بابا کرلاڼ د سړبن په اولاد کښې شماري خو د الفنسټن د وينا مطابق "ګورله" (کرلاڼ) د قېس بابا څلورم زوى دے. د دې خبرې پخلے محترم سيال مومند په دې ټکيو کښې کوي:

" د کېرو د کتاب دي پټهان په 32 مخ کښې ئې ذکر شته. محزن افغاني په ۸۸۰ پاڼه کښې دامني اولف کېرو په خپل کتاب کښې کرلاڼي د غورغشتي څلورم زوى بولي او ځينې نور وائي چې نۀ دے خو ماته په ټولو کښې د الفنسټن خبره درنه او سمه ښکاري "(3).

خو مونږ چي نن څومره پښتانۀ وينو دا ټول کۀ د هرې قبيلې سره تعلق لري خو غټې شجرې به ئي دا څلور وي کومې چي پورته ذکر کړے شوې. بيا د دې ټولو قبيلو خپل خپل ذېلي ښاخونه دي چي شمار ئې د حد نه وتلے دے خو بيا هم محققينو دغه ټولې ذېلې معلومې کړې دي او په کره اندازه ئې حساب کړي دي او په ډېر محتاط ډول ئې تقسيم کړې او شجرې ئې مرتب کړې دي. سيال مومند د ټولو پښتنو قبيلو شمېر او تقسيم په دې ډول کوي.

" د پښتنو ټولې ذيلي څانګې ۴۰۵ دي دغسې سړبني ۱۰۵، غورغشتي ۹۵، بېټني ۲۵، مستوزي، غلجي، لودي ۵۲، کرلاڼي ۱۲۸دي او ټولې څانګې ۴۰۵ دي "(4).

خوشحال بابا د پښتنو د دې لويو لويو څانګو نه پرته ورې او ذيلي څانګې هم په خپلو قصيدو کښې بار بار ذکر کړي دي. مونږ دلته د خپلې اسانۍ په خاطر دا مقاله په څلورو برخو کښې تقسيموو او د هغه ټولو قبيلو ذکر کوو کوم چي د سړبن، غورغشت، بېټنو او کرلاڼو سره تعلق لري.

## (۱) سړبن (سړبني):

د پښتنو په قبيلو کښې د ټولو نه لويه او ګڼ شمېر څانګې لرونکې قبيله سړبن (سړبني) يادېږي. دې قبيله کښې يوسفزي، منډړ، غورياخېل، مهمند، اکوزي، داؤدزي، خويشکي او نور يو شمېر قبائل موجود دي. خوشحال بابا په خپلو قصيدو کښې ځای په ځای دا قبيلي ذکر کړې دي. په سړبنو کښې خوشحال بابا د ټولو نه زيات يوسفزي په شعرونو کښې ياد کړي دي. ځکه چي خوشحال بابا څۀ د خانداني دشمنۍ او څۀ د مغل د منصب دارۍ په سلسله کښې د دُوی سره برسرِ پېکار پاتې شوے دے او په دې تربګنۍ کښې ئې پلار او نيکه هم د يوسفزيو دلاسه ګور ته په سور کفن تللي دي. هم دا وجه ده چي خوشحال بابا د يوسفزيو ذکر ډېر په بدل انداز کښې کوي او ډېر بد ئې وائي خو په يوه موقع ئې د دُوی مړانه او ننګ ستائيلے دے. د مدح او ذم دغه ګډ احساسات د خوشحال بابا په دې لاندېنو شعرونو کښې په نظر راځي.

"که د سمې کۀ د غرۀ دي يوسفزي دي
همګي زمري دي مۀ ئې وے زوال"(5)

"چې احوال د یوسفزیو رامعلوم شو
لواغر و ماته ښهٔ ؤ نهٔ دمغار"(6)

"دېرش کالونه وشول چې مې پلار دے شهید شوے
مړ کړ یوسفزیو ماهم اوکړه باندې سمه
یو یوسفزے دے چې په ما ئې منت بار کړ
لا په اکوزیو د ننګ چار ده مسلمه"(7)

په یوه قصیده کښې د یوسفزیو بې ننګي ژاړي او ورسره ورسره د نورو قبیلو اپریدو، مهمند او شینوارو ذکر هم کوي. لکه چې وائي:

"اپریدي، مهمند، شینواري ګوره څهٔ کا
د مغلو لښکر پروت په ننګرهار
زهٔ تنها پکښې په غم د نام و ننګ یم
یوسفزي دي فراغت په کشت و کار"(8)

په پورته ذکر شویو شعرونو کښې "مهمند " قبیله هم په سرېنو کښې راځي او د افریدیو او شنواریو ذکر په وړاندې راشي. په مختلفو ځایونو کښې د مهمندو د مړانې او ملګرتیا ستائینه کوي او وائي:

"څهٔ شینواري، څهٔ مهمند، څهٔ افریدي وو
چې ئې مات کړ د صوبې واړه لښکر"(9)

"مهمندي زما د کلې لاس او پښې دي
راضي مند د افریدیو په کومک یم"(10)

په یوه قصیده کښې د مستجاب مومند ذکر داسې کوي.

"مستجاب مومند که چرګه د مغل دے
زهٔ خوشحال ختک خو باز یم ځای مې غر"(11)

په یو بل شعر کښې د دوؤ نورو سرېنو قبیلو خوېشکي او باقل زي ذکر کوي. یاده دې وي چې باقل زي د داؤدزیو قبیلې ښاخ دے. داسې ښکاري چې

خوشحال بابا د دُوی نه هم ناراضه ؤ او هغه ځکه چي دا دواړه قبیلې د مغل سره په نوکرۍ مامور وې او په لویو څوکیو ناست وو. ځکه خو خوشحال بابا د دې دواړو د احسان نه ځان ساتي او وائي.

"مۀ منت د خوښکي مېشکي باندې بار شه
نۀ منت د باقل زئ د بقال"(12)

## (۲) غورغښت:

غورغښت یا غرغښت د پښتنو قبیلو یوه لویه ډله ده چي ډېره مشهوره ده. ډېرو شجره نویسانو او مؤرخینو دا قبیله د "غر" اوسېدونکې خودلې ده. ډاکټر لطیف یاد ئې پېژندګلو په دې ډول کوي:

" غرغښت د پښتنو په قبیلو کښې یو مشهور ټولنیز ګروپ دے چي په دغه ټولنیز ګروپ پورې یو شمېر ترلې دي چي پښتانۀ ئې غرغښتان هم بولي. غرغښت په پښتنو کښې یو مشهور نیکه تېر شوے دے او له پخوا زمانو نه مؤرخانو د دۀ نوم او حال لیکلے دے. په پښتني عنعنه کښې هم غرغښت یو خورا لوي پښتون او مشهور نیکه ګڼل کېږي."(13).

او بیا وړاندې په دې ګروپ کښې دا مشهورې او نومورې قبیلې ذکر کوي.

" په مجموعي ډول د غرغښتې پښتنو په ټولنیز ګروپ کښې دا لاندینۍ قبیلې ډېرې مشهورې دي. ۱ ساپیان، ۲ کاکړ، ۳ ناغر، ۴ داوي، ۵ ګدون یا جدون، ۶ بابي، ۷ مندوخېل، ۸ پني، ۹ خوندي، ۱۰ لودین، ۱۱ مشواني"(14).

خو د بده مرغه خوشحال بابا په دې ښاخونو کښې د یو ذکر هم نۀ دے کړے. د دې وجه شاید چي دا وي چي دا قبیله په افغانستان او بلوچستان کښې اوسېږي او د خوشحال بابا سره ئې څۀ واسطه نۀ ده راغلې. په یو ځای کښې ئې "لودین" قبیله یاده کړې ده خو د هغې نه مراد "لودي" دي ځکه چي په هغه شعر کښې د بهلول ذکر کوي او بهلول لودي پښتون ؤ. هغه شعر داسې دے.

"بیا بهلول لودین بادشاه شو د دهلي
چې په تخت ئې نهۀ ویشت کاله سکونت ؤ"(15).

لودي یا لودین د پښتنو یوه یاده قبیله ده په دې شعر کښې خوشحال بابا د لودي قبیلې ذکر د بهلول په حواله کړې دے ځوک چې په هندوستان کښې د پښتنو وړومبے بادشاه ؤ.

## (۳) بېټني:

بېټ یا شیخ بېټن د قیس بابا دریم زُوی دے او د پښتو ژبې شاعر تېر شوے دے. په شاعرۍ کښې ئې مناجات ډېر شهرت لري. د دُوی د اولاد او خېل شمېر هم ډېر زیات دے چې پکښې بېټني، غلجي، لودهي او سوري وغېره ډېر زیات مشهور دي.

خوشحال بابا په خپلو قصیدو کښې د بېټني قبائلو ذکر هم کړے دے. "د دهلي د ښار مختصر تاریخ او بیان " نومې قصیده کښې د غلجي، لودهي او سوري قبیلو ذکر کوي. دغه ذکر د پښتنو بادشاهانو په ذیل کښې کوي، لکه چې وائي:

"بیا سلطان جلال الدین　په سریر کښېناست
چې په اصل کښې غلجے د ولایت ؤ
بیا له پسه تغلق شاه چې امراء ؤ
پرورش ئې د غلجیو په دولت ؤ
بیا بهلول لودین بادشاه شو د دهلي
چې په تخت ئې نهۀ ویشت کاله سکونت ؤ
بیا له پسه شاه عالم د حسن سور ؤ
چې همایون د دۀ دلاسه هزیمت ؤ"(16)

په پورته شعرونو کښې خوشحال بابا د پښتنو بادشاهانو نومونه لیکي او تذکره ئې کوي چې په کښې د جلال الدین خلجي (غلجي)، بهلول لودهي او شېر شاه سوري دورانِ حکومت ته پکښې اشارې شوي دي.

دغه شان خوشحال بابا د پښتنو د بل لوي ګروپ یعنې " کرلاڼي " قبیلې د مختلفو ښاخونو او خېلونو تذکره کوي. خوشحال بابا په خپله د دې ګروپ سره

تعلق لري نو ځکه د هغوي په قصيدو کښې د کرلاڼي قبائلو نومونه په کثرت سره راغلي دي.

**(۴) کرلاڼي:**

په کرلاڼو قبائلو کښې خوشحال بابا د ډېرو زياتو قبيلو ذکر کړے دے لکه دله زاک، اورکزي، اپريدي، خټک، وزير، شيتک، شينواري، شلمان، بنګش، اتمان خېل او په خپله د خټکو د قبيلې مختلفې ځانګې او د اپريدو او نورو قبيلو ذېلي ښاخونه. خوشحال بابا په خپله کرلاڼے ؤ نو ځکه هغۀ د خپل نسب نه ښۀ واقف ؤ او د نورو قبيلو د تاريخي حېثيت نه هم خبردار ؤ.

لکه څنګه چې خوشحال بابا په خپل ژوند کښې د يوسفزيو سره برسرِ پېکار پاتې شوے دے نو دغه شان د بنګشو سره ئې هم ښۀ درنه تربګني وه. د دغه تربګنۍ نتيجه دا وه چې خوشحال بابا بنګش ډېر په بده ياد کړي دي او د دُوی نه ئې ډېر سر تندے ټکولے دے په خاصه توګه شېرمحمد خان بنګش چې اول مغلو په قېد کښې ساتلے ؤ خو چې خوشحال بابا د مغل سره وران شو نو هم دغه شېر محمد خان بنګش ئې هر وخت په تکليف او مصيبت کښې اضافه کړې ده.

خوشحال بابا د شېر محمد خان بنګش اطلاق په ټولو بنګشو کوي او ټول بنګش د شېر محمد خان بنګش په تله کښې اچوي په خپلو شعرونو کښې خوشحال بابا ډېر په سپکه لهجه کښې ستائيلي دي. دُوی ئې د مذهب او پښتونولۍ نه هم بهر کړي دي او بې ننګه ئې ورته وئيلي دي. دا قسم خيالات ئې د "ډوډې د جنګ" په يوه قصيده کښې بيان کړي دي. دا جنګ د خوشحال بابا د وېنا تر مخه خټکو ګټلے ؤ. د بنګشو په حقله په دې قصيده کښې داسې وائي:

"د خټکو نېزه بازو سور و توئی کړو
د بنګشو د سور و فوځ تمام
د بنګش بخره د پالې د چوکې ده
نور دي ننه باسي توره په نيمام
کۀ بنګش څخه ځۀ ننګ وے پرې به نۀ کړے
ما د دۀ له ډکه باغه يو بادام
چې بې ننګه چارې کا په واړو ورشه

لکه راغے په بنګشو دا هنګام
د کوهاټ په عالم واړه عالم ډک شو
د بنګشو کېده لاړه تر بګرام
بد مذهب رافضي ډېر دي په بنګش کښې
چې خبر نۀ دي په شرع په احکام
بنګش کله پښتانۀ دي ګوره څوک دي
نۀ ئې ذات نۀ ئې مذهب نۀ ئې امام
د بنګش له بده بویه به خلاص نۀ وي
که په ملک کښې سړي ووینې تمام
د بنګش په زړۀ کښې ډېره شېطاني ده
کۀ په خلۀ و تاته شېخ شي د بسطام"(**17**)

په یوه بله قصیده کښې د بنګشو سره سره خټک او اورکزي هم غندي او د ښځو په شان ورته ښېرې کوي. لکه چې وائي:

"که خټک دي کۀ بنګش دي کۀ ورکزي دي
وار په وار ئې په کور اوشه ماتمونه"(**18**)

دغه شان " شیتک " هم بې ژبې او بې لوظه بولي او وائي چې " شیتک " د هر چا سره خپل خوئي بدلوي. په دې حقله یو شعر کښې لیکي:

"و هر چا سره چې کښېني هم هغه شي
اوس مې نیمه ژبه خوښه شوه شیتک یم"(**19**)

"شلمان" قبیله هم د کرلاڼیو یوه څانګه ده. خوشحال بابا خو د شلمان قبیلې څۀ مدح او ذم نۀ دے کړے خو بیا ئې هم د خېبر د جنګ په حقله لیکلې شوې یوه قصیده کښې د نوم ذکر موجود دے او د دې لویه وجه دا ده چې دا جنګ په خېبر کښې د "شلمان " په غرونو او لمنو کښې شوے دے. خوشحال بابا په "شلمان" کښې د مغلو شکست او قتلېدل په دې ټکیو سره خوندي کړي دي:

"د شلمان غرونه په دا کله خبر دي
په شلمان کښې چې زرګونه شول ډېر"(**20**)

د دې نه علاوه د خوشحال بابا په کلام کښې د یوې بلې کرلاڼې قبیلې " شینواري" ذکر هم شته دے خو دا ده چې خوشحال بابا د شینوارو، مهمندو او افریدو ذکر اکثر ځایونو کښې په یو ځای یا یو شعر کښې کړے دے. په دې درې واړه قبیلو کښې " مهمند" په سرښو کښې راځي او باقي دواړه قبیلې کرلاڼي دي. لکه دا شعرونه وګورئ:

"افریدي، مهمند، شینواري ګوره څۀ کا
د مغلو لښکر پروت په ننګرهار"(21)

"څۀ شینواري، څۀ مهمند، څۀ افریدي وو
چې ئې مات کړ د صوبې واړه لښکر"(22)

دغسې د دې پورته شعرونو نه پرته خوشحال بابا د افریدو ذکر په ډېرو ځایونو کښې کړے دے په یو شعر نیم کښې خوشحال بابا افریدو پسې بد رد وئیلي دي خو زیاتره شعرونو کښې ئې د دُوی ذکر په ښو لفظونو کښې کړے دے او د دُوی مرسته او مړانه ئې ستائیلې ده. دلته د حوالې په توګه صرف په دوؤ شعرونو راوړلو اکتفا کووم.

"مهمندي زما د کډې لاس و پښې دي
راضي مند د افریدیو په کومک یم"(23)

"په لاچيې په څوتره وګرځېدلم
اوس مې ګشت د افریدیو په مېدان شي"(24)

لکه څنګه چې وړاندې وئیلے شو چې خوشحال بابا په خپله کرلاڼے ؤ او ځکه ئې د کرلاڼي قبیلو ذکر په خپلو شعرونو کښې په کثرت سره کړے دے نو وجه ئې دا وه چې کرلاڼي قبائل زیاتره د یو بل سره نژدې اباد دي او خوشحال بابا خو ښکاره خبره ده چې خټک دے نو خوامخوا (خامخا) به په خپلو شعرونو کښې د خټکو ذکر زیات کوي او کۀ وکتلے شي نو د خټکو د ذېلي ښاخونو او خېلونو ذکر ئې هم په ډېر ځایونو کښې کړے دے. دلته اول د خټک قبیلې د نوم ذکر په شعرونو کښې ګورو او بیا ورپسې د خټکو د ذېلي خېلونو د نومونو لټون او جاج اخلو. د خوشحال بابا د وینا تر مخه د دُوی په دور کښې د خټکو شمېر دېرش زره پورې ؤ او وائي چې خټک زما په دور کښې وپېژندے شو.

"واړه دېرش زره خټک دي
درست زما وو په فرمان
درست خټک زما په دور
نامور شو په دوران
کۀ خټک په زمکه پروت ؤ
پاس مې يووړ په اسمان"(25)

په خپلو شعرونو کښې کله کله د "خټکو " ستائينه کوي او کله کله ئې غندنه کوي داسې ښکاري چې خوشحال بابا سره کومو خټکو مرسته او لښکرې کړې وې نو د هغوي نه خوشحال ؤ او ستائيلي ئې دي او کومو چې ورسره بې وفائي کړې وه او د دُوی د مخالفينو سره ملګري شوي وو نو د هغوي ئې په سختو ټکيو کښې غندنه کړې ده او ډېر بد ئې ورپسې وئيلي دي د دې مدحې او ذم دا شريک خيالات ئې په څېنو شعرونو کښې داسې ښکاره کړي دي.

"د خټکو نېزې هسې تلې په زغره
لکه ستن په خېمه درومي د خيام "(26)

"د خټکو سپي بهتر تر يوسفزيو
کۀ خټک دي هم په خوي تر سپي بېکار"(27)

کۀ خټکو راته شا کړه مخ ئې تور شه
زۀ يوازې په تکيه د خدای شېرک يم

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالے د زمانې خوشحال خټک يم"(28)

وړاندې په يوه بله قصيده " بهرام ته" کښې د خټکو نه مزيد خفګان ظاهروي د نومې خټک نه وېزاري خوښوي دُوی ته دد و دام وائي او د خپلوۍ نه ئې انکاري کېږي او وائي چې خټک به په زور او توره خپل کړې خو په مهربانۍ هېڅ کله نۀ خپلېږي.

"د ختټکو نه مې هومره زړهٔ خوښ دے
چې توبه له همګي ختټک له نامه

د نعمت په قدر هېڅ خبردار نهٔ دي
نوم ختټک به مې خلاص نهٔ وي له انعامه

ختټک واړه دد و دام دي کهٔ ئې ګورې
څوک به څهٔ غواړي خپلوې له دد و دام

کهٔ زمونږ خانه نهٔ وے ختټک ورک وو
د خواجه په نوم اصیل دي څو غلامه

کهٔ په توره ختټک خپل کړې ګندې خپل شي
ګنه هېڅ به ئې خپل نهٔ وي کړې له اکرامه"(29)

دې سره خوشحال بابا د ختټکو مختلفې قبیلې هم په اکثرو شعرونو کښې ستائیلي یا غندلې دي په دغه څانګو کښې د بولاق، تري، ساغري، بارک، بنګي خېل، بټي خیل، شابي خېل او دروېش خېل نومونه په نظر راځي.

ختټک قبیله په دوه لویو څانګو مشتمله ده یو تورمان او بل بولاق. تري د تورمان د زوي "تري" په نامه یادېږي او بولاق په خپل نوم شهرت لري. خوشحال بابا په خپله تري ختټک ؤ. څکه خو ئې په شعرونو کښې په دې ډول ستائیلي دي.

"کهٔ تري دي کهٔ بولاق رحمت پرې باندې
په سیالۍ تورې وهلې واړه قسام"(30)

سکه وروڼه مې تري دي حال ئې دا دے
د بولاقو نه لا لرې یو څپک یم"(31)

هم دا رنګ د ډوډې په جنګ کښې د مختلفو ختټکو قبائلو د ننګ او بې ننګۍ شریک احساسات او خیالات په دې لاندینو شعرونو کښې ښکاره کوي.

"په دا هسې وخت یو دوه ایسوړي نهٔ وو
نهٔ خورم، نهٔ دروېش خېل وو بد فرجام

شابي خېل، کۀ مکوړي وو په اولجه شول
د خورمو تنبې ښۀ وکړ خِرام
عالم خان صاحب اولاد جمال الدين دے
په ساغري، په بنګي خېل کښې د اکرام "(32)

دغه شان د بارک (چې په تري خټکو کښې حسابېږي ) او بټي خېلو ذکر هم په ښو لفظونو کښې کوي. ځکه چې دې دواړه قبيلو ورسره ډېره مرسته او ملګرتيا کړې وه او بټي خېل په ډېر تعداد کښې په جنګونو کښې مړه شوي وو. خوشحال بابا پرې شاباسے وائي. خو د خپل مزاج سره سم اول د بارک صفت کوي او بيا پرې لعنت وائي. دا احساسات مونږ په دې شعرونو کښې ليدے شو.

"چې شهير مې بټي خېل وو کنډکپر شول
پروا دار په لنډو پرونو د بارک يم
تف په ږيره د همه واړو بارکو
لا زما په ږيره هم کۀ زۀ بارک يم"(33)

مونږ ولوستل چې د خوشحال بابا په نزد پښتانۀ بني اسرائيل دي او څلور لوئې قبيلې لري چې سړبن، بېټني، غورغشتي او کرلاڼي يادېږي او دغه شان ئې په خپلو قصائدو کښې د ګڼ شمېر هغه قبيلو ذکر کړے دے. چې د دې څلورو واړو ګرپونو سره تعلق لري او دا خبره څرګندوي چې خوشحال بابا د خپل دور ډېره فراخه تاريخي، معاشرتي او سماجي مطالعه لرله. د کومو پښتنو قبيلو ذکر چې خوشحال بابا په خپلو شعرونو کښې کړے دے نو د هغې نه هم جوتېږي چې په څۀ نه څۀ شکل کښې ئې د دُوی سره واسطه راغلې ده.

خوشحال بابا په خپلو قصيدو کښې نژدې نژدې د هرې قبيلې ستائنه او غندنه کړې ده خو په ټولو کښې مهمند، افريديو او حسن خېلو (چې د افريديو يوه څانګه ده) نه راضي مند ؤ. د دې نه پرته ئې هره قبيله کۀ په يو ځای کښې ستائيلې ده نو بل ځای ئې ښۀ غندلې او ښۀ ژور طنز ئې پرې کړے دے چې په کښې د يوسفزيو، خوېشکي، باقل زي (چې د داؤدزي قبيلې يوه څانګه ده) بنګش او د خټک نومونه زمونږ ترسترګو کېږي. مونږ دا هم وليدل چې خوشحال بابا په خټکو کښې د تري او بولاق د مړانې او تورې ستائينه کړې ده. دغه شان په

یو شعر کښې بارک او بتې خپل شهیر ګڼي خو په بل یو شعر کښې په بارکو باندې لعنت لېږي. د دې سره سره د خټکو د ذیلي خېلونو تذکره هم زمونږ د نظره تېره شوه. خو په خوشحال بابا باندې د انتقام او قهر سېلاب دومره زوراور شوے دے چې د ښېګړې او احسان ټول بندونه ئې شلولي دي.

**نتیجه**: د دې ټول بحث په رڼا کښې مونږ په دې نتیجه رسېږو چې خوشحال بابا په هر لحاظ یو نابغه روزګار شخصیت ؤ. د خپلو خصلتونو په برکت ئې په هره موضوع قلم چلولے دے چې یو په کښې د پښتنو د بېلا بېلو قبیلو تذکره هم ده. چې د پښتنو ټولې قبیلې د خپلې شاعرۍ برخه ګرځولې دي. همدغې شاعرۍ ته مونږ تحقیقي شاعري هم ویلے شو.

# حوالې

(1) درياب، بادشاه روم(علي خېل)، ډاکټر، د خوشحال په کلام کښې ځينې وران کړي شوي نومونه، مشموله شپږ مياشتنۍ پښتو، جنوري، جون ۲۰۱۷ء، مخونه ۳۱، ۳۲

(2) مومند، م، ج سيال، د پښتنو قبيلو شجرې، يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور ښار، ۱۹۸۸ء، مخ ۹

(3) ايضاً، مخ ۹

(4) ايضاً، مخ ۱۲

(5) د خوشحال بابا کليات، مرتبه، پروفېسرډاکټريارمحمدمغموم خټک، (سمونه، مقدمه حاشيې، تشريحات او فرهنګ)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۶ء، مخ ۱۷۱

(6) ايضاً، مخ ۱۸۶

(7) ايضاً، مخ ۲۲۳

(8) ايضاً، مخ ۱۶۹

(9) ايضاً، مخ ۱۷۰

(10) ايضاً، مخ ۱۷۸

(11) ايضاً، مخ ۱۷۱

(12) ايضاً، مخ ۱۷۱

(13) ياد، لطيف، ډاکټر، پښتنې قبيلې وپېژنئ، **www.khyber.org**، مخ ۲۵۴

(14) ايضاً، مخ ۲۵۵

(15) د خوشحال بابا کليات، مرتبه، پروفېسرډاکټريارمحمدمغموم خټک، (سمونه، مقدمه حاشيې، تشريحات او فرهنګ)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۶ء، مخ ۲۳۶

(16) ايضاً، مخونه ۲۳۶، ۲۳۵

(17) ايضاً، مخونه ۱۶۶، ۱۶۵

(18) ايضاً، مخ ۱۸۲

(19) ایضاً، مخ ۱۷۸
(20) ایضاً، مخ ۱۷۰
(21) ایضاً، مخ ۱۶۹
(22) ایضاً، مخ ۱۷۰
(23) ایضاً، مخ ۱۷۸
(24) ایضاً، مخ ۱۹۰
(25) ایضاً، مخ ۱۸۴
(26) ایضاً، مخ ۱۶۵
(27) ایضاً، مخ ۱۶۸
(28) ایضاً، مخ ۱۷۸
(29) ایضاً، مخ ۲۰۰
(30) ایضاً، مخ ۱۶۶
(31) ایضاً، مخ ۱۷۷
(32) ایضاً، مخ ۱۶۶
(33) ایضاً، مخ ۱۷۷